## د خلافت په شتون کې ګاز عامه شتمني ګڼل کیږي او په هغه بیه به پلورل کیږي، چې اقتصاد له پیاوړتیا سره مخ کړي



### د ګازو د بیو لوړوالی به اقتصاد نور هم زیانمن کړي

د تېلو او ګازو د تنظیم ادارې (OGRA) د پاکستان فدرالي حکومت ته وړاندیز کړی چې د ګازو په بیه کې دې ۴۶ سلنه زیاتوالی راولي. د دې ادارې چارواکو د کورنیو او سوداګریزو مستهلکینو د بېوزلې طبقې لپاره د ګازو د بیو په جګوالي کې ۸۶ سلنه پرېکړه وکړه. په ورته وخت کې دغه بیې په نورو طبقو، لکه: صنعت، سیمنټ، CNG ګاز، برښنا او سوداګریزو برخو کې له ۲۷ څخه تر ۳۱ سلنې پورې جګې شوې دي. په بیو کې یاد لوړوالی د ۲۰۱۸-۲۰۱۹ مالي کال لپاره د اټکل شویو عایداتي اړتیاوو له امله او ترلاس لاندې د بېلابېلو پروژو د پلي کېدو او نورو لګښتونو په موخه رامنځته شوی.

حزب التحریر- ولایة پاکستان په کلکه د ګازو د بیو له لوړوالي سره مخالف او په بشپړه توګه یې ردوي. هغه مهال چې کورني مستهلکین د کلدارې د ارزښت د ټیټوالي له امله له ګرانی او د بیو له لوړوالي سره مخ شول، نو صنعتي او کرهنیزو سکتورونو لا له وړاندې له بهرنیو تولیداتو سره د سیالی په ډګر کې د کورنیو توکو د اغېزمنتیا په اړه شکایتونه کول.

په پاکستان کې هر حکومت که نظامي دی یا سیاسي، ټل پانګوالو سیاسي دلالیو ته په کتو سره د ګازو او برښنا بیې لوړې کړې دي. له شکه پرته د ۲۰۱۸م کال په ټاکنو کې تر بریالیتوب وروسته کومه ډله چې واکمنېږي، د یوې سیاسي ډلې په توګه به د بیو د لوړوالي دغه دود ته دوام ورکړي، چې له دیموکراسی څخه به ملاتړ کوي او له کپیټلیزم پرته به بل کوم نظام نه لري.

د پاکستان مسلمانان او د هغوی اقتصاد، خلافت نظام ته اړتیا لري، چې د شرعي اصولو پر بنسټ به ګاز عامه شتمني اعلانوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ الْمَاءِ وَالْكَلَإِ وَالنَّارِ»**

مسلمانان په درې څیزونو اوبو، څر ځایونو او اور کې سره شریک دي.

(احمد)

دلته د اور په لفظ کې د انرژۍ ټول هغه ډولونه شامل دي، چې په صنعت، ماشینونو او کار ځایونو کې ورڅخه د سون موادو په توګه ګټه اخیستل کیږي، دغه راز هغه کار ځایونه چې ګاز د تېلو او د سکرو د ډېرو پر ځای کاروي د همدغه حدیث له مخې اسلام ګاز عامه شتمني اعلان کړې او دولت ته یې دنده سپارلې، چې د خلکو په ګټه یې چارې تنظیم کړي او خلک یې له ګټو څخه برخمن کړي. نو د نبوت پر طریقه خلافت به د کورنیو، سوداګریزو، صنعتي او کرهنیزو مستهلکینو لپاره ګاز په داسې بیه وړاندې کړي چې پر دوی به بار او پېټی نه وي، اقتصادي ماشین به په چټکتیا سره په څرخېدو کړي او د تولید شویو

توکو بيي به داسې راتيتي کړي، چې د سيالۍ وړ به وي. خو دا هر څه هغه مهال شوني دي چې ديموکراسۍ ته نه وويل شي او د خلافت نظام رامنځته شي. نن ورځ د خلافت رامنځته کول يوازې يوه اسلامي وجيبه او دنده نه، بلکې اړينه ده چې اقتصاد هم له کړکېچ څخه وژغورل شي او يو ځل بيا د ودې لارې ته سم شي. په رښتيا سره زموږ د خوشحالۍ داړ منتيا د الله سبحانه و تعالى او د هغه د پېغمبر صلى الله عليه و سلم د حکمونو په پلي کېدو کې نغښتې ده.

**﴿إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ﴾**

[النور: ۵۱]

*ژباړه: د مومنانو کار خو دا دی، چې کله د خدای او پېغمبر لوري ته د خپلو شخړو د پرېکړې کولو لپاره راوبلل شي نو وايي، موږ واورېدله او وومنله، دغه راز خلک بريالي او نجات موندونکي دي.*

**حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۳۹هـ ق، د شوال ۱۱مه**

**۲۰۱۸م، د جون ۲۵مه**

**No: PR18042**